مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی

۲۰۲۰/۰۷/۳۰

# ابراهيم خليل الله، د دريو اديانو پيغمبر

که د نړيوال ستر کلي رنګيني نقشې ته وګورو، نو د غړو هيوادونو شمير يې ۱۹۵ ته رسي چې د هستوګنو مجموعي تعداد يې ۷۵/۷ مليارده دی. د همدی سرسامونکي نفوس ۹۳ سلنه، د اسلام، نصرانيت، يهوديت، هندويزم او بوديزم په ګډون، په ۲۲ مختلفو اديانو باندی عقيده لري. پاتې ۷٪ وګړي نه د الله تعالی په ذات او نه په کوم دين ايمان نلري چې ايتيست (ملحدين يا دهريان) بلل کيږي. د دغو باورمندو پيروانو له جملې څخه (۳/۲) مليارده يې مسيحيان (۱۸/۱) مليارده يې مسلمانان او يواځې شپاړلس مليونه يې يهودان دي.
د دری واړو اسماني اديانو منونکي، حضرت ابراهيم عليه السلام ته د يو رښتيني پيغمبر او سپيڅلي شخصيت په سترګه ګوري. په تورات او عبري ژبه کې د ابراهيم نوم دَابْرام او اَفراهام په بڼه ليکل شوی چې د عزتمند پلار په مانا دی. د انجيل په مختلفو نسخو کې، حضرت ابراهيم په ډير درناوي او حرمت سره ياد شوی او نصاری هغه د خپلې عقيدې د محوري سمبول په توګه مني. د قرانکريم په ديارلسمې سيپارې کې د ابراهيم په سورت سربيره، دغه نوم ۶۳ ځلې د الله تعالی په کتاب کې راغلی او هر ځل يې د پوهې، وفا او ټينګ هوډ ستاينه شويده.
ابراهيم (ع) د حضرت نوح لسم لمسی دی چې له ميلاد څخه په يو تاريخي روايت ۱۸۵۰ او د بل سند له مخې ۲۲۰۰ کاله وړاندی، د عراق د بابل په ښار کې زيږيدلې دی. ژبه يې سرياني وه او د پلار نوم يې تارح وو، خو په قرانکريم کې آزر بلل شويدی { وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ آزَرَ - کله چې ابراهيم خپل پلار آزر ته وويل..} دری ورونه يې درلودل چې يو يې د حضرت لوط پلار وو. همدارنګه دری ودونه يې کړي وو، له سارا څخه ځوئ يې اسحاق او له هاجرې څخه ځوئ يې اسماعيل دی. دريمه ميرمن يې قطوره نوميده چې شپږ اولادونه درلودل او غالبا يو يې هم پيغمبر نه وو.
يهود پدی باور دي چې ابراهيم (ع) د خپلې قربانۍ لپاره حضرت اسحاق غوره کړی وو او له همدی امله دوئ خپل ځانونه شعب الله المختار (د الله غوره شوی ولس) ګڼي. خو د قرانکريم له مخې د ابراهيم (ع) هغه ځوئ چې په منی او مزدلفه کې د قربانۍ لپاره چمتو شوی وو، هغه حضرت اسماعيل (ع) وو، ميرمن يې د يمن عربه وه او د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم ستر نيکه دی.
ابراهيم (ع) ته په وړوکوالي کې ځيرکتيا او پوهه ورکړل شوې وه، هميشه يې د منطق او استدلال په ژبه خبرې کولې او هيڅکله يې ډبرين بت او خټين واکمن ته د تعظيم سر ندی ټيټ کړی، نو ځکه ورته د امت، حنيف او خليل لقبونه ورکړل شويدي. قرانکريم داسی حکايت کوي: کله چې شپه شوه، نو ابراهيم په اسمان کې يو غټ ستوری وليد، ويې ويل چې همدا زما رب دی، خو چې تری تم شو، ويې ويل نه، دا زما رب ندی. بيا يې سپوږمۍ وليدله چې ګواکې همدا به زما خدای وي، خو هغه هم له نظره پټه شوه، ويې وويل، نه دا هم نده. ګهيځ کې د لمر ستر ځليدونکي ستوري ته ځير شو، نو ګمان يې راغی چې دا خو به هرو مرو رب العالمين وي. مازيګر کې هغه هم ډوب شو، نو يقين يې راغی چې دا يو هم د الله ذات ندی او په عبادت او سجدې نه ارزي (وَلَقَدْ آتَيْنَا إِبْرَاهِيمَ رُشْدَهُ مِنْ قَبْلُ - موږ لا ډير پخوا ابراهيم ته هوښيارتيا او سړيتوب ورکړی وو).
حضرت ابراهيم د خپلې زمانې د مشهور او ښکره ور ټولواک، نمرود بن کنعان لخوا د بغاوت په تور په سور انګار کې واچول شو، ځکه چې د ميلې په ورځ يې درمسال کې ټول بتان برغنډ برغنډ کړي وو. مګر له نجات وروسته يې خپل کور پريښود او د کنعان په ستري واکمنۍ کې له عراق څخه د نن ورځې فلسطين ته کډه شو. څه موده وروسته مکې ته ولاړ او په سپينه ږيره يې د خپل ځلموټي ځوئ، اسماعيل ذبيح الله په تنکيو لاسونو د کعبې خونه آباده کړه.
همدا نن يې د لمانځنې لپاره په لسګونو زره کسان د عرفات په غونډۍ لوڅ سرونه، پلاستيکي څپلۍ په پښو، د کفن


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ

په خیر سپین احرامونه اغوستي او په سختي ګرمی کي ولاړ او همدا یو شعار زمزمه کوي چي: (لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ).
حضرت ابراهیم علیه الصلاة و السلام د موحدینو علمبردار، د زرګونو پیغمبرانو نیکه او د عظمت، شهامت او میلمه پالني یو ځانګړي کرکټر دی. کله چي له مکي بیرته فلسطین ته ستون شو، څه موده وروسته همدلته وفات او دفن شو. د بیت المقدس په سهیل کي د ۳۵ کلیومتری په واټن پروت د الخلیل په نوم ښار د همدې ستر پیغمبر په نوم جوړ شوی او هر کال په زرګونو عقیدتمند خلک د ابراهیمی حرم د زیارت په نیت د هغه سلام او درناوي ته ورځي (وَاتَّخَذَ اللَّهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا).
سره ددی چي د حضرت ابراهیم پلار بت پرست او د وخت د جابر واکمن مخلص غلام وو، خو تل یي د پلار سره ادب ساتلی او د ځوئ ولی لهجه یي کارولي: (پلار جانه! دغه بتان نه ستا خبره اوري او نه درسره کومه مرسته کولائ شي. دغه لاره غلطه او تا د بدمرغی په لور بیایي) خو هیڅکله یي د زور او بغاوت لاره نه ده غوره کړه. د حضرت نوح او حضرت لوط میرمني خائني او کنجري وې، مګر دغو دواړو پیغمبرانو د هغوئ په خلاف زور او شدت ته لاس نه دی اچولی. حضرت عیسی ته خلکو د خدای د ځوئ نسبت ورکړ، خو هغه څوک ونه وژل او ابولهب او ابوجهل د حضرت محمد (ص) ناسکه کاکا ګان وو او تر هغي یي ورسره د توري او نیزې په ژبه خبرې ونه کړې، تر څو چي دوئ ورپسي بدر او خندق ته راغلل. بلې، تر ټولو مهمه دا چي کله په مدینه منوره کي د منافقینو سالار عبدالله بن ابی بن سلول مړ شو، نو حضرت پیغمبر ښه پوهیده چي هغه څوک دی، خو بیا یي هم خپل کمیس ورکړ چي د کفن په ځای یي استعمال کړي.
شاید موږ به د دغو باعزمه پیغمبرانو،څه بدمرغه شان امتیان یو چي د سوچه او سوتره عقیدې له دعوو سره سره، د خپلو ونورو وګ مهیلک د وینو له تویولو څخه خوند اخلو. د هغي بی اسرې کونډې زړه ته نه ګورو چي خپل یتیم ځوي په څومره خوارئ او غریبئ را لوی کړي، بیا موږ د هغه ټټر ته ماشینګنه ونیسو او له مردکو ډک شاجور یي په سینه کي خالي کړو چي ته خو دوزخي یې، منافق یي او باید ووژل شې؟
د رحمان بابا له خاطره دی ستر خالق تعالی د هزار خوانی ټوله هدیره وبښي چي په څومره ساده ټکو کي یې د انساني کرامت، حرمت اوعبادت فلسفه په یو بیت کي داسي رانغښتي ده:
د خلیل تر کعبي دا کعبه ده لویه - که آباد کا څوک ویران حرم د زړه

---

## سرچیني:

قرانکریم، د الیوم السابع - مصری مجله، ګوګل، وړیا انسایکلوپیدیا او د ډاکټر عمر عبدالکافي د یوتیوب چینل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ